# نه به آپارتا ید جنسیتی در افغانستان #



## په افغانستان کی جنسیتي تبعیض ته نه

د مارچ اتمه په ټوله نړۍ کې د ښځو د مبارزې او د ښځو د پیوستون یادونه ده .د خپل تاریخ په اوږدو کې دغه ورځ د ۸ بدلونونو لامل شوې او د نړۍ په ډېرو برخو کې ښځې خپلو اساسي او انساني غوښتنو ته رسېدلې دي.

له بده مرغه د دوحې له شرمناک تړون او د طالبانو تر واک ته رسېدو وروسته د افغانانو بشري، اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او فرهنګي حقونه د پام وړ تر پښو لاندې شوي دي.

افغان میرمنې چې د هیواد د نفوس نیمايي برخه جوړوي له سیستماتیک تبعیض سره مخ دي چې د دې ډلې له خوا د بشریت ضد جنایت یوه بیلګه ده.

د بنسټیزو حقونو لکه د زده کړې او کار حق څخه محرومیت په هیواد کې د ښځو د ډله ایزو مجازاتو څرګند مثالونه دي چې د افغان میرمنو او نارینه وو چې د ښځو د بشري حقونو د بیرته راوستلو لپاره یې هڅه کوله د خوځښت محدودیت، نیول او شکنجه کول دي.

په دې موده کې لسګونه ښځې په منظم ډول وژل شوي دي .له ټول هېواد څخه د "امرو معروف "په نامه د ملېشه ځواکونو له خوا د ښځو د پراخو او دله ایزو نیولو مستند راپورونه شته، د طالبانو په زندانونو او محابسو کې پر افغان ښځو او نجونو د جنسي تېري لسګونه پیښې په مسند ډول ثبت شوې دي.

# نه به آپارتا ید جنسیتی در افغانستان #

په تېرو څو اوونیو کې درې ځوانو نجونو هر یو شبنم ۲۲ کلنې، مرضیه ۱۷ کلنې او زهرا ۲۱ کلنې له زندانه تر خوشي کېدو وروسته ځان وژنه کړې ده.

د بشریت پر ضد د دغه ښکاره جنایت په اعتراض کې به د تېر کال په څېر سږ کال هم د ښځو نړیواله ورځ په شاندارو کورنیو ځایونو کې ونمانځو، د لاریون لپاره به سرکونو ته راووځو.

-----------------------------------------------------

# په افغانستان کې جنسیتي تبعیض ته نه

تېر کال مو د »د جنسیتي تبعیض ته نه «تر نامه لاندې مظاهره وکړه، د دغه جنایت پر ضد مو نارې وهلې، د اروپا پارلمان ته لاړو، خپلې غوښتنې مو وړاندې کړې او ورته مو وویل چې بېرته به راځو.

سږکال به موږ له هغوی څخه وپوښتو چې دوی په افغانستان کې د ښځو د وضعیت د بدلون لپاره کوم اقدامات کړي دي.

## موږ د افغانستان له نارینه او ښځو څخه غواړو چې؛

- د افغانستان د ښځو د مبارزو ملاتړ له پاره افغانستان له هرې ممکنې لارې هڅه وکړ.

- د رای ورکولو د حق د رسمیت پېژندلو پرته او د ملي حقوقي چوکاټ تعریف چې د افغان ښځو او نارینه وو د بشري حقونه ضمانت پکې شامل نوي د طالبانو د رسمیت پیژندلو د مخنیوي هڅې ته دوام ورکړئ .

- د نظر توپیر په اختلافونو او تباهۍ مه بدلوی او خپل غږ د ګډو ملي غوښتنو په چوکاټ کې وساته.

# نه به آپارتا ید جنسیتی در افغانستان #

**موږ، د افغانستان نارینه او ښځې له نړیوالې ټولنې څخه په یوه غږ غواړو؛**

▪ د افغان ښځو له غوښتنو سره چې د دوی له اساسي بشري حقونو څخه عبارت دي، د ودرېدو حق، د زده کړې حق، د کار حق او د بیان د ازادۍ حق د معاملې وړ نه دي.

▪ "د طالبانو لخوا د افغان ښځو د بشري حقونو د سیستماتیک چند میکانیزم باید د "بشریت ضد جرم په توګه تر لاس لاندې ونیسی ، طالبان د غندنې په څیر دریځونو ته پام نه کوي او تاسو باید هغوی ځواب ویونکي کړئ .

▪ طالبان دې ته اړ کړی ترسو د امر به معروف او نهی منکر اداره لغوه کړي او د افغان نجونو او ښځو ځورونه او جنسي تیري هیڅ دیني اساس نه لري، دا جوړښت د تاوتریخوالي د پراختیا، له ټولنې څخه د ښځو د ایستلو او په ډیموکراتیکو ارزښتونو د برید لپاره افراطي قوتونه تولیدوي .د دې دفتر چارواکي باید د نړیوالو پولیسو تر سار لیست کې شامل شي.

▪ ، د هغو بندیانو چه په هغی کی نجو او ښځو، چې د خپلو بشري حقونو لپاره یې هڅه کاوه ژورنالیستان، پخواني پوځیانو او ټول هغه کسان چې د طالبانو په ښکاره او پټو مرکزونو کې د سیاسي دلایلو له مخې بندیان دي، د خلاصون لپاره له هیڅ ډول هڅو څخه ډډه مه کوي.

▪ د طالبانو له توقیف ځایونو او زندانونو څخه د وتلو وروسته د نجونو او ښځو د "ځان وژنې "د ډیرې قضیو او راپور ورکولو د ډیرې قضیو د څیړلو لپاره یو ځانګړې استازی وټاکئ.

▪ د طالبانو ډله یوه وړه ډله ده چې د افغانستان د خلکو استازیتوب نه کوي، طالبانو ته د معاملې او امتیازاتو په ورکولو سره دیموکراتیکو ارزښتونو ته زیان مه رسوي او د افغانستان له خلکو په سنګ کی ودریږي.

## نه به آپارتا ید جنسیتی در افغانستان #

## 08.03.2024:

**Berlin**: Oranienplatz , **11:15 AM**
**Hanover:** Köpcke, **15:00 PM**
**Hamburg**:  Gänsemarkt**, 15:00 PM**
**Dortmund,:** Reinoldikirche, **15:00 PM**
**Indiana State Bloomington 15:00 PM**
**Stockholm: 6:00PM (Online)**
**Virginia: 01:00 PM**

**Istanbul:** Blikdouzo yasham park  **01:00 PM**
**Antalya:** Kızılsaray, Milli Egemenlik **01:00 PM**
**Islamabad**: Barako 6 Road **2:00 PM£**
**Quetta:** Hazara town University Road, **2:00 PM**
**Tehran**: Bustan Samana, **01:00 PM**
**Mashhad**: (Can´t be disclosed)
**Brussels:** Brussels central station **9:00 AM**

## Afghanistan:

**Kapisa, Herat, Panjshir, Herat, Kabul, Mazar, Baghlan,**

**Laghman, Takhar, Parwan Parwan,  Kandahar**

## اعضای اتحادیه نه به آپارتاید جنسیتی در افغانستان :

**Afghan Women Activists Coordinating Body (AWACB):** info@eu-integration.org